مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ژباړه :عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۱۱/۱۷

# د مان سینګه د زوی کالاسینګه اقرار

## لومړی برخه

د ۱۹۱۷ کال په وروستیو شپو ورځو کې، د هند د لودیاني ښار ته نیژدې د کالاسینګه په نوم یو سیکه ونیول سو چې څو کاله وړاندې په پنجاب کې د برتانوي هند د حکومت له عسکري خدمت څخه تښتېدلی وو. پولیسو له هغه څخه تحقیقات وکړل او د هغه له تحقیقاتو څخه یې ډېر داسې شیان معلوم کړل چې تر دغه وخته دوی ته نه وه معلوم. کالاسینګه په کابل کې د هند د مؤقتي حکومت د مشر راجا مهیندراپراتاپ سره د خپلو اړیکو، د هغه د پټو فعالیتونو، د جرمني، د افغانستان له حکومت، او د صوبه سرحد له پښتنو سره د هغه د اړیکو په باب اطلاعات ترلاسه کړل. د دې تحقیقاتو یوه برخه له افغانستان سره مستقیمه اړه لري. په دې تحقیقاتو کې معلومېږي چې د هند او پښتني علاقو تولو اوسېدونکو له برتانیې څخه مشترک نفرت درلود. په زړه پورې خبره دا ده چې په دې مبارزه کې مسلمان، سیکه او هندو ټول ګډ کار سره کوي. هندیان، پنجابیان او پښتانه ټول همکاري سره کوي او په دې لړکې د افغانستان د پاچا امیر حبیب الله خان او د هغه د ورور نایب السلطنه نصرالله خان رول هم د یادولو وړ دی. تاسي د کالاسینګه د هغه اقرار ترجمه ګورئ چې د هند په رسمي آرشیف کې قید ده. البته ما یې هغه برخې را اخیستې دي چې زموږ له هیواد او له پاکستان سره په پوله کې پرتو پښتنو سره مستقیمه اړه لري. کالاسینګه ته به ښایي پولیسو د اعتراف او ریښتیا ویلو په بدل کې څه وعدې هم ورکړي وي. خو د هغه په اقرار پوري مربوطو مکتوبونو څخه څرګنده ده چې هغه بالاخره اعدام سوی دی. د اقرار خط په پای کې لیکل سوي دي چې دا اقرار د ۱۹۱۸ کال د جنوري پر دیارلسمه نېټه د پنجاب د پولیسو د سرمامور د مرستیال سرداربهادر سوکه سینګه له خوا ثبت سو.

... پټان ماته وویل چې خواجه خېل ته ولاړ سه. زه هم ولاړم او هلته مې د یوه هندو په کور کې شپه تېره کړه. هندو ماته وویل چې زه باید مُلا سرتور ته ورسم. ده زما سره یو سړی ملګری کړ او هغه ته یې وویل چې ما له ملا سرتور سره معرفي کړي. دغه سړي راته وویل چې ملا سرتور ډېر ښه سړی دی او زما په ژبه هم پوهیږي. ده هم زما سره یو سړی ملګری کړ چې زه یې مُلا سنډکي ته بوتلم، چې د خیرآباد څخه یې په دریو څلورو میلو فاصله کې، په لوړ سوات کې، د سیند پر هغه بله غاړه، په یوه کلي کې ژوند کاوه. ملا سنډکی په یوه جومات کې اوسېدی. ما هغه ته فقط دونه وویل چې زه یو سیکه یم او له پنجاب څخه تښتېدلی یم. ما ورته وویل چې غواړم یوه پټه خبره ورته وکړم. ما دوې شپې په جومات کې تیرې کړې او په دریمه ورځ له ملا سنډکي سره کښېنستلم. سنډکی په هغو شپو ورځو کې د دیر له نواب سره په جګړه بوخت وو. ما هغه ته وویل چې د ترکیې سلطان د انګرېزانو سره جنګ اعلان کړی دی او دا، په ټوله نړی کې، د هر مسلمان وظیفه ده چې د سلطان له دښمنانو سره، چې یو خلیفه دی، جنګ اعلان کړي. ما ده ته وویل څرنګه چې د سوات علاقه ستا په لاس کې ده نو دا پر تا باندې فرض ده چې له برتانیې سره وجنګیږې. ما هغه ته وویل چې د هندوستان مسلمانان او هندوان ټول د انګرېزانو سره مخالف دي. او که له بهر څخه مرسته ورسره وسي نو دوی به انګرېزان له خپلې خاورې څخه وشړي. ملا سنډکي را ته وویل چې د دیر نواب د انګرېزانو ملګری دی او دی هغه ته د کافر په سترګه ګوري او د هغه پر ضد جنګ د انګرېزانو پر ضد جنګ دی. سنډکي ملا را ته وویل چې د روژې له میاشتې وروسته به د انګرېزانو پر ضد جنګ پیل کړي او تر هغه وخته پورې به یې د دیر د نواب چاره هم کړې وي. ملا سنډکي په هیڅ ځای کې ډېر وخت نه تېراوه او له یوه ځایه بل ته خوځېدی. ما د دیر د نواب پر ضد په جنګ کې برخه وانه خیستله او ملا صاحب هم په جنګ کې عملاً برخه نه اخیستله بلکه له جبهې څخه څو میله لیري پروت وو. تقریباً پنځه لس ورځې وروسته ما ملا سنډکي ته وویل چې زه خپل وخت چیري تېر کړم. ده راته وویل چې د مجاهدینو سیمه به زما لپاره تر ټولو بهتره وي. ده زه ملا پاچا ته واستولم چې د بنیر په علاقه کې د پیر بابا په مزار کې ملا وو. یو مولوي، چې له ملا پاچا سره وو، د هغه د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ترجماني وظيفه پر غاړه درلوده. ما له پاچا ملا سره هم خبري وکړي او هغه هم ژمنه راسره وکړه چي د روژې له میاشتي وروسته به د انګرېزانو سره جنګ پیل کړي. ده زما سره یو سړی ملګری کړ او هغه په اسماس کي د مجاهدینو امیر ته بوتلم. ما هغه ته هم وویل چي زه د انګرېزانو له خاوري څخه تښتېدلی یم او یوه سرپناه غواړم. ده راته وویل چي ایا غواړم چي مسلمان سم. ما ورته وویل چي زه نه غواړم چي مسلمان سم او که مي څوک مجبور کړي نو بیا بله چاره نه لرم. ده راته وویل چي نه غواړي ما په زور مسلمان کړي او د خپل کور په لوړ پوړ کي یې ځای راکړ. مجاهدین هغه هندیان ول چي د انګرېزانو له قلمرو څخه وخت په وخت تښتېدلي وه. ځیني خو په دې علاقه کي د څلورو نسلونو راهیسي اوسېدل. مجاهدین درې مرکزونه لري؛ اسماس، چمرکنډ او تیراه. اسماس د هغوی یو لوی مرکز دی چي تقریباً اته سوه مجاهدین پکښي اوسیږي. دوی درې زاړه توپونه درلودل. دوی پر دې برسېره ډېر زیات توپکونه لري چي ځیني یې انګرېزي او ځیني یې تیراهي دي. دوی د کارتوس جوړولو یو ماشین هم لري. د مجاهدینو څخه ۱۵۰ تنه د اولادونو او کورنی خاوندان دي. د چمرکنډ د مهمندو په علاقه او تیراه کي تقریبا ۱۵۰ تنه مجاهدین اوسیږي. مولوي نعمت الله د مجاهدینو امیر دی. د اوتراپردېش اوسېدونکی مولوی عبدالکریم، د چمرکنډ د جمعیت مشرتوب پر غاړه لري، او مولوي بشیر د هغه مرستیال دی. مولوي بشیر د لاهور اوسېدونکی دی. ویل کیږي چي دی په لاهور کي د یوه جومات امام وو او په بندیخانو کي نابالغو بندیانو ته د نصیحت کولو وظیفه یې درلوده. ما پخپله د تیراه ډله نه ده لیدلي. ما اورېدلي دي چي د دې ډلي مشر یو زده کوونکی دی چي له پنجاب څخه تښتېدلی دی.

کله چي زه اسماس ته ورسېدلم هلته مي څوارلس یا پنځه لس مسلمان زده کوونکي ولیدل چي د پنجاب له پوهنځیو څخه ور تښتېدلي ول. زما له هغوی څخه دا څونومونه په یا دي. عبدالحق، خوشي محمد، عبدالباري، ثناءالله، عبدالقادر او یوسف.

د نورو نومونه مي هېر دي. دوی ټول په یوه خونه کي چي طویله وه اوسېدل او د مولوي بشیر او عبدالرحمن تر لاس لاندي وه چي دوی یې له پنجاب څخه اسماس ته راوستلي وه. ما اورېدلي دي چي عبدالرحمن هندو مسلمان وو. دی اصلاً یو خیاط وو. ویل کیږي چي یوه خور یې په لاهور کي واده ده. زده کوونکي د مجاهدینو امیر له انګرېزانو سره جنګ کولو ته تشویقاوه او ورته ویل یې چي وروسته نو باید د کابل امیر هم تشویق سي. دوی ویل چي که د افغانستان امیر د دوي غوښتنه ونه منله نو دوی به ترکیې ته ولاړ سي. تقریباً لس ورځي وروسته یو بل عبدالرحمن نومی چي د پېښور په علاقه کي، شبقدر ته نیژدې، د یوه کلي اوسېدونکی دی، او پخپله یو ارباب دی، زده کوونکي یې کابل ته بوتلل.

اسماس ته زما له رسېدلو څخه درې څلور ورځي وروسته، مولوی بشیر له دربند څخه راغی. د مجاهدینو امیر زه ور وغوښتلم. هلته یو مولوي سندی ناست وو، د باري د جمعیت جمعه دار، مولوي بشیر او د هندوستاني جمعیت جمعه دار ناست وو. مولوي بشیر د مجاهدینو له امیر څخه وغوښتل چي د انګرېزانو پر ضد جنګ پیل کړي. امیر ورته وویل چي که له هند څخه څلور پنځه لکه روپۍ مرسته راسره وسي نو جنګ به پیل کړي. مولوي بشیر ورته وویل چي همدا اوس هم د هندیانو له خوا مرسته ورسره کیږي او که جنګ پیل کړي نو دی یقین لري چي نوره مرسته به هم ورسره وسي. په مجلس کي ناستو کسانو چي هر څه دلایل وویل امیر غوږ نه ورباندي ونیوی. له دې څخه وروسته هم مولوي بشیر له امیر څخه څو ځله وغوښتل چي دا طلایي فرصت باید له لاسه ورنه کړي او د انګرېزانو سره جنګ پیل کړي مګر امیر قانع نه سو.

ضمناً د ترنګزیو حاجي صاحب، چي ویل کیږي د شنکرګهړ اوسېدونکی دی، د انګرېزانو له قلمرو څخه تښتېدلی او باج کټه علاقي ته راغی. د ډهلي اوسېدونکی سیف الرحمن هم له حاجي صاحب سره ملګری وو. د ترنګزیو حاجي صاحب د بونیر په علاقه کي ډېر زیات نفوذ درلود. موږ دواړو حاجي صاحب ته وویل چي سنډکی ملا او پاچا ملا دواړه له انګرېزانو سره جنګ کولو ته تیار دي او له ده څخه مو وغوښتل چي بونیر وال جنګ ته وهڅوي. ده وویل چي د جنګ پیل کولو ته تیار دی خو په دې شرط چي د مجاهدینو امیر له ده سره د خبرو لپاره راسي. موږ دواړه اسماس ته ولاړو. لومړی د امیر د کاکا زوی رحمت الله له حاجي صاحب سره خبري وکړي او بیا نو پخپله امیر هم ورسره ورغږېدی. مولوی بشیر او مولوي سندهي له سلو تنو مجاهدینو سره د حاجي صاحب سره ملګري سول. ټول کسان، درې ورځي وروسته، اسماس ته راغلل. د مجاهدینو امیر وویل فیصله پر دې سوه چي سنډکی ملا به په لنډکي کي جنګ پیل کړي، پاچا ملا به په مالان دره کي او حاجي صاحب او مجاهدین به په سرکاوي کي جنګ پیل کړي. وروسته داسي پیشنهاد وسو چي حاجي صاحب په سرکاوي او مجاهدین به په اګرور کي جنګ پیل کړي مګر دا پیشنهاد ونه منل سو. امیر وویل چي دا درې واړه ډلي به د اختر له لمانځه څخه وروسته، په یوه وخت کي، حملې پیل کوي. بالاخره د روژې د میاشتي څخه وروسته د اختر دوهمه ورځ د جنګ لپاره وټاکله سوه.

د روژې د میاشتي پر څلرویشتمه مولوی فضل ربي او مولوی فضل محمد اسماس ته راغلل. دوی د بابړي ملا را لیږلي ول. دوی امیر ته وویل چي د بابړي ملا مهمندو ته ویلي دي چي د انګرېزانو سره جنګ پیل کړي او د امیر څخه یې غوښتي وه چي د مجاهدینو یوه ډله ور ولیږي. د سلو تنو مجاهدینو یوه ډله د مولوي عبدالکریم او د هغه د مرستیال مولوی بشیر تر مشرۍ لاندي له دوو مولویانوفضل ربي او فضل محمد سره ولیږل سول....



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولـئ

د اختر پر دریمه د ترنګزیو حاجي صاحب د مجاهدینو امیر ته پیغام واستاوه او ویل یې چي مجاهدین باید په سبا ورځ د توربېلې کنډو ته راسي او پر انګرېزانو باندي به حمله وکړو. د مجاهدینو د امیر د خور مېړه میاصاحب سپه سالار او د امیر د کاکا زوی رحمت الله د مجاهدینو د ډلي د امیر په حیث واستول سول. مجاهدین د سلو تنو په شاوخوا کي وه او ځلور یابو ګان ورسره وه چي مواد وربانديي باروه. په سبا ورځ مجاهدینو د کنډو پر لور حرکت وکړ او په ورپسې ورځ یې زه او مولوي کمال الدین اپرېدی د توربېلې کنډو ته ور ورسېدلو. موږ هلته خبر سولو چي د ترنګزیو د حاجی صاحب سړیو د مجاهدینو له ور رسېدلو څخه مخکي پر انګرېزانو حمله کړې ده او څوارلس تنه یې وژل سوي او ټپیان سوي دي. دوی د عملیاتو پرېښودلو ته تیار وه او د مجاهدینو د ناوخته رسېدلو له امله یې شکایت کاوه. مجاهدینو ویل چي دوی د حاجي صاحب سړیو ته ویلي وه چي د ورځي به حمله نه کوی مګر هغوی یې پر مشوره غوږ ونه نیوی. ما حاجي صاحب ته وویل چي دا فرصت باید له لاسه ورنه کړو. حمله مه پرېږدی او زه به امیر ته احوال ورکړم. حاجي صاحب خپل سړي معطل کړل او د اختر پر اتمه امیر له دوو سوو تنو مجاهدینو او دوو توپونو سره را ورسېدی. په هغه شپه مجاهدین، پر انګرېزانو باندي د حملې لپاره، روستام ته ولاړل مګر انګرېزان یې پیدا نه کړل. په دغه وخت کي د مجاهدینو شمېر دریو سوو تنو ته رسېدی چي پر دریو ډلو وېشل سوي ول، چي یوه ډله یې احتیاطي کسان وه. فیصله پر دې وسوه چي دوهمه ډله پر انګرېزانو حمله کوي او دریمه ډله به هغه غونډۍ نیسي چي له هغه ځایه به پر هغو انګرېزي قواوو باندي چي د دوهمي ډلي سره په جګړه لګیاوي ډزي کوي.... موږ، په دغه توګه، پنځه ورځي پر دښمن باندي حملې وکړې؛ او په شپږمه ورځ هغوی د ورځي حمله راباندي وکړه. زموږ پنځوسو تنو څخه، تر ماښامه پوري، اووه تنه ووژل سول او اووه تنه مو ټپیان سول. ضمناً موږ ته اطلاع ورسېده چي د حاجي صاحب سره ملګرو بونیروالو له انګرېزانو څخه پیسې اخیستي او میدان یې پرې ایښی دی. زه پوه سوم چي، په دغه ډول حالاتو کي، د انګرېزانو سره مقابله کول ممکن نه دي نو د سوات خواته، د ملا سنډکي د لیدلو لپاره، ولاړم. هغه په دغه وخت کي په لنډکي سیمه کي په جنګ لګیا وو. زه جبهې ته نه ولاړم او د مُلا ډلي هم کومه سوبه ونه کړه او دی هم د جنګ پرېښودلو ته مجبور سو. ځلور پنځه میاشتي زه له مُلا سره پاته سوم او د بر سوات په غرونو کي ګرځېدم. موږ په دغه وخت کي د سیمي خلک د انګرېزانو پر ضد جنګ ته هڅول؛ مګر زموږ په مخ کي تر ټولو لوی خنډ د قبایلو ترمنځ جنګونه وه چي هر وخت به پېښېدل. بالاخره زه ناروغ سوم او اسماس ته ستون سوم.

ما واورېدل چي د بابړي د مُلا تر رهبری لاندي مجاهدینو، درې ځله، په شبقدر او مټه مغول خېل کي پر انګرېزي قواوو باندي حملې کړې دي. ماته وویل سول چي په هغو دریو حملو کي دغه ملایانو برخه اخیستې وه: ملا جان صاحب، ملابابا، د کامې مولوي صاحب او د کنړ شیخ پاچا. د ترنګزیو حاجي صاحب هم په دوهمه او دریمه حمله کي برخه درلوده.

کله چي زه، اسماس ته، په سنډکي مُلا پسي ورغلم نو هغه د مجاهیدنو له یوې ډلي سره چمرکنډ ته روان وو. ما غوښتل چي کابل ته ولاړ سم نو له ده سره ملګری سوم. نهه منزله وروسته، موږ چمرکنډ ته ورسېدلو. ما هلته یوه هفته تېره کړه او له هغه ځایه د کنړ د پَشَت سیمي ته ولاړم او هلته مي اووه یا اته شپې په یوه درمسال کي تیري کړې. زه بیرته چمرکنډ ته ستون سوم او هلته مولوي بشیر ته منتظر سوم چي باید زما سره کابل ته تللی وای. موږ پنځه تنه وو چي مولوي بشیر، د پېښور عبدالرحمن، عبدالکریم مجاهد، معین الدین مجاهد او زه .

موږ له چمر کنډ څخه کابل ته روان سولو. په دریو ورځو کي جلال آباد ته ورسېدلو او هلته مو یوه شپه تېره کړه او له هغه ځایه کابل ته ولاړو.

د کابل امیر مجاهدینو ته له کاله ځلور سوه پونډه ورکول اوما واورېدل چي اوس یې پیسې زیاتي کړي او له کاله اته سوه پونډه ورلیږي. مولوی بشیر اوس حاضر په کابل کي د مجاهدینو استازی دی او له ده څخه مخکي لال شاه پټان استازی وو.

مولوی بشیر په قلا باقر کي د امیر د رسمي مېلمه په حیث دېره سو او ما هم له ده سره واړول. د کابل حاجي عبدالرزاق زموږ د ژوند د وسایلو او شرایطو غم خوړ او موږ ته یې هغه پیسې را رسولې چي امیر زموږ لپاره ټاکلي وې.

زه د پښې د زخمونو او درد له امله پنځه لس ورځي په قلا کي پاته سوم خو مولوي بشیر به کله ناکله له سردارنصرالله خان سره لیدل. ما ته وویل سوه چي هغه محصلین چي له پنجاب څخه تښتېدلي او له مجاهدینو سره یو ځای سوي دي د کابل په هندوګذر کي په یوه دولتي مهانخانه کي اوسیږي. دوی د مولوي بشیر د لیدلو لپاره زموږ ځای ته راغلل. دوی موږ ته وویل چي له اسماس څخه د شبقدر له عبدالرحمن سره جلال آباد ته ولاړل او څرنګه چي د مجاهدینو د امیر پېژند لیک ورسره نه وو نو په جلال آباد کي بندیان سول. د جلال آباد ګورنر هغوی کابل ته واستول او په کابل کي درې ځلور میاشتي بندیان ول. کله چي مهیندراپراتاپ او له هغه سره ملګری هیات کابل ته ورسېدی نو د دوی د خوشي کولو غوښتنه یې وکړه او دوی هم خوشي سول. په لومړي سر کي د کابل د کوټوال تر نظارت لاندي وه او وروسته مولوي عبدالرازق ته وسپارل سول. زه نه یم خبر چي له دوی سره به د کابل مقاماتو لیده کاته کول کنه خو مولوی بشیر به، د هغوی په استازیتوب، له نایب السلطنه سره لیدل. دغو شاګردانوته میاشتنی تنخوا ورکول کېدله. ما


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دغه راز واورېدل چي د کهوټا اوسېدونکی هرنام سینګه او ډاکټر مترا سینګه هم په شمالي کي نیول سوي دي. دوی دواړه هم د مهیندرا پراتاپ په غوښتنه خوشي سول او اوس له زده کوونکو سره ژوند کوي.
کابل ته زما له رسېدلو سره هرنام سینګه زما لیدلو ته راغی. ده ما ته وویل چي زما له روانېدلو څخه وروسته یې پنځه ورځي د حضور صاحب سره تیري کړې او په امرتسر او لاهور کي د غدر له ګوند سره یو ځای سو. په هغه وخت کي راش بیهاري بوس هم په پنجاب کي وو. نادان سینګه، هرنام سینګه او ډاکټر متراسینګه ته وظیفه ورکړې وه چي پېښور، مردان او لاهور ته، د پوځونو مرکزونو ته، ولاړ سي او عسکر ولمسوي. دوی په هغو ځایونو کي کوم جدي کار ونه کړای سو او چي د غدر د ګوند د غړو ګرفتاری شروع سوې نو دوی هم آزادو سیمو ته وتښتېدل او ډېر وخت یې په تیراه کي تېر کړ. هرنام سینګه د هندو جوګي په لباس کي ګرځېدی او ډاکټر مترا سینګه د طبیب په جامه کي. دوی بالاخره د کاهي په پوځي مرکز کي ونیول سول؛ شپږ میاشتي یې په بندیخانه کي تیري کړې او کله چي مهیندراپراتاپ کابل ته را ورسېدی دوی هم خوشي سول. ډاکټرمتراسینګه او خوشي محمد، د یوه پټ ماموریت لپاره، مهیندراپراتاپ روسیې ته واستول.
په هغو شپوورځو کي د جرمني هیات په کابل کي وو. د دې هیات پنځه غړي وه. جرمنی وان هینټیګ یې مشر وو. قاسم بېګ، ترکی سفیر، مهیندراپراتاپ او برکت الله یې غړي وه. دوی په باغ بابر کي د دولت مېلمانه ول. پر دوی برسېره، د قنبرخېل د علاقې، پنځوس اپرېدي وه چي مشري یې میرمست کوله، چي د برتانیې له پوځ څخه تښتېدلی وو. بل هم د پېښور د سمي علاقې اوسېدونکی عبدالرحمن او یو بل مسلمان هم وو چي له امریکا څخه ترکیې ته تللی او هلته د مهیندراپراتاپ له هیات سره یو ځای سوی او کابل ته راغلی وو. دغه سړي هم په باغ بابر کي ژوند کاوه. دغه عبدالرحمن او د ده ملګری اوس د مهمندو په سیمه کي په لکړ کي د ترنګزیو له حاجي صاحب سره هستېږي. دوی له کابل څخه تر روانېدلو وروسته، یو څو ورځي، له مجاهدینو سره دېره وه.
یو هم نادرشاه نومېدی، چي یو قتل یې کړی وو، او وروسته له لاهور څخه کابل ته تښتېدلی وو. دی په پنجاب کي د پولیسو د تمریناتو ښوونکی وو. دی به زیاتره وختونه زما د لیدلو لپاره راتلی.
یو هم مولانا عبیدالله نومېدی چي له هندوستان څخه تر تښتېدلو وروسته یې ځان کابل ته رسولی وو. ویل کېدله چي دی په هند کي د یوه پوهنځي استاد وو. دی هم په هندوګذر کي له محصلینو سره اوسېدی.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ